## ځما دیوی شعری ټولګه یوه برخه :

### بیواکه

د خلکو د خبرو پروا نه مي دی ساتلي
له وخته چې مي زړه آشنا تا پسی تللی

*

ګودرکی چي مو ولید مازدیګرلمرپریوتله
ما تا ته اوتا ما ته اورین مینه را ښوله
بیا هغه شیبي هیڅکله می نه دی هیریدلي
له وخته چې می زړه آشنا تا پسی تللی

*

د فترد خاطراتو کی مي هغه ورځ لیکلي
چی لیک ته می کتلي ته مي بیا رایادولي
هروخت می تصورکی ستا آنځورولویدلي
له وخته چي مي زړه آشنا تاپسی تللي

*

«مل» هغه ورځ دمینی ستا دنیا ته داخل شو
چي سترګي مي بیواکه ستا لیدو ته مایل شو
له هغي ورځی ترنن می ستا لاری څارلی
له وخته چي مي زړه آ شنا تا پسی تللي

*****

کریفلد جرمنی 2020-02-11

### خوښیږي

چی هری خوا مي مخ شي په مخه مي دریږي
آنځور دی مي په ذهن کی مسکاسره غورځیږي
بی حده مي خوښیږي هیڅ وخت مي نه هیریږي
شاهد مي شوی رنګ چي اورکي سوځیږي
په چیغو چیغو ژاړم وصال دی همیش غواړم

چې نه دی وینم اوس ژړا مې نه دریږي
د تا سره مې مینه په کلي رسوا شوي
د سوی رنګ قصې مې په لر اوبر خپریږي
ما«مل» له خپلې مینې ناهیلي او محروم مکړه
چې بې له تا د ژوند ستونزې مې ډیریږي

******
کریفلد جرمنی 2020-02-15

## بې خبره

ها وختونه نه راځي بیا له سره
بې له مینې له هرڅه وو بې خبره
پټ پټ مینه مو کول دخلک له سترګو
ډاریدلو د رقیب له شر و شوره
ستا راتګ مې دګودر په لارڅارله
دلید و مو چې ګودر وو پټ محضره
په اشارو سره کول مو خبري
ته د «مل» وې په زړه پورې دلبره

*******
کریفلد جرمنی 2020-02-15

## همدم یې

یو ته یې چې خوښې ته مې همدم یې
په ښکلو کې ځما ښکلي صنم یې
بیلتون دی نشم هیڅوخت زغملی
د یدار سره تپو ته مې ښه مرهم یې
له تا چې اومه لیرې ډیر مې ژړلي
اوس هم ځما په یاد په هرپل او قدم یې
ځما مینه د تا سره رینتیا دی ریا نده
د«مل» په خاطرو کې همیش او هردم یې

*******
کریفلد جرمنی 2020-02-19

## پالنګ

د سپین مخ د شغلو په هاله کې دی پټنګ
نخرو سره دی کیږمه نیشه بې له بنګ

ښایست او جمال دي بې جوړه او بې همتا
دسرو شونو رنګ دي دانا ر دګل په رنګ
غاتول دي په وربل کې عجب خوشنمایی کا
څما په سترګو ښکارې ډیر ښکلی اوقشنګ
هوس مې د بوسې ستا له سرو شونډوکیږي
خلوت کې که جوړه شي«مل»سره په پالنګ

**** کریفلد جرمنی 2020-02-19

## علامې دي

دا ستا د خولې خندا د لوخ مینې علامې دي
څما دزړه شکارته ستا ترلومې پروت دانې دي
کتل دې مې د زړه په تل کې لمبې بلوی
ادا او کرشمې ستا یارې ته ننبانې دي
له تا بیلید ل په سکروټو ځا ن سیځل دی
په څنګ دې اوسیدل د هوسا ژوند لمحې دي
ته ما ته د خوښۍ او خوشحالۍ انګیزه یې
ستا مینې ته د «مل» په زړه پټه خزانې دي

**** کریفلد جرمنی 2020-02-19

## ځوانوی

پستې خوږې خبرې دې مې بیا ځوانوي
خندا دې له دهنه مې خپګان له مینځه وړي
روغبړ کې چې دې لاس بیاځما په لاس لګي
احساس داورین مینې مې صورت راپاره وي
چې سترګې دې مې سترګو سره مخامخ شي
څپې ستا د مینې مې بیا زړه لرزوي
ها څه چې مې په زړه کرځي لوخ درته وایم
بیلتون دې آشنا «مل» بې حده ځوروي

**** کریفلد جرمنی 2020-02-21

## پخلا شي

انځورته دی چي ګوروم بی اختیاره مي ژړا شي
لیدو ته دی مي سترګي له هرخوا په تما شا شي
هروخت مي خاطرو کي یادونه دی یادیږي
پیتي د حسرتونو دروند بار مي په شا شي
ناخوالي د بیلتون دی صورت مي سوځوي
د زړه آه وفریاد مي بیواکه په هوا شي
قاصد ستا د وصا ل له « مل» مرور شوي
له سره نه پوهیږم چي کله به پخلا شي

******

کریفلد جرمنی 21-02-2020

## همدغه می آشنا دی

ځیر پورته ماته نه ګوری با شرم وبا حیا دی
خوبانو کي جوړه نه لري ښکلي بی همتا دي
کتل یی دزدانه سري شونډی په مسکا
د زړونو په شکا رکی ډیر ماهره دلربا دی
د سترګو په ا نظا ر سره مینه پاره وي
مکیزو او کرشمي یی په خندا هویدا دي
ما «مل» ددي په شان بل خوبان لیدلي نه دي
ما زړه چي پري بایللی همدغه ځما آشنا دي

******

کریفلد جرمنی 21-02-2020

## دمیني ژبه

د مینی ژبه ناز ، ورین تندي او اشاري دي
د زړونو په پیوند کي د مینو ارادی دي
سرحد ، سمت ، ورنګ هیڅ نه پیژنی مینه
خوښی او خوشحا لي د مینو خواستي دي
مسکا د زړه ورلي په زړه شور اچوي
یو بل ته رسید ل د پاکي میني خزاني دي

پرتاچي«مل»زړه ورکړانګیزه یی ستا ادا وه
را پاتي ځما اوستا بیا  په مینه دا خاطری دي        .کریفلد جرمنی 22-02-2020

## چرتُونه

د لیری چي په مینه دی  ما ته وخندل
د میني سکروتي دی په زړه مي ولړل
کا ته دی بل شی نه وه ړول ځما دل وو
د مینی  چي با ران ستا له سترګو وریدل
له هغي ورځي چي بیا  مي تا نه ده لید لي
هره ورځ مي درپسی بی اختیاره ډیر ژړل
دتا سره دمیني برخه لیک می معلوم نه دي
د  تا  پریا راني باندی چرتُونه «مل» وهل

***** کریفلد جرمنی 24-02-2020

## اداګانو

ماته قصی دتودی مینی د خوبانو که
دهغودکرشمو دغمزو دتورچشمانوکه
شیخه ما دتور اودګناه په حبل مه تړه
ماته صفت د ښکلو پیغلو دلبا نوکه
وعده دجنت دحورو  په دروغو مکوه
ما ته صفتونه دناوکی د تور زلفانو که
«مل» ته د دوزخ له  اور څه مه وایه
ماته صفتونه دټول ښکلو د اداګانو که

**** کریفلد جرمنی 25-02-2020

## نقده مینه

فاصله  ځما او د شیخ ترمینځ  اوږده  دي
نقده  مینه ځما دی  د شیخ مینه وعد ه دي
ها  د حورو  په ا رما ن زانګی خیالو کی
ما ته دا ډول تصور تول  بیهوده  دي
هاچي وایی مشرک ستړی خدای ناراض دی
هلی ځلی د ګمراه شیخ نور په څه دي ؟

زه پوهيږم شيخه ستا باور تينګ نه دي
ستا هر کړنه شيخه ټولو ته ازموده دي
ته د(مل) سره بې ځا يه سيا لي مکړه
اورين مينه ځما د(مل) د ژوند مزه دي

****** کريفلد جرمنی 28-02-2020

## ستونی ستخ

په ياری دی نشم پوه کله خوښ کله نا خوښ
کله شا اړوی ما ته کله ولويږي ستونی ستخ
کله هسی له ورايه دزدانه په مينه ګوري
کله بيا د با نو غشي په سينه مي کوي ښخ
کله خاندي په سرو شونډو کله ګنځه دی تندي
کله حور د جنت کيږي کله اور دسور دوزخ
تا سره لار د ميني له ما (مل) ورک شوي
کله ژوند مي ډير خوږه کله هسي ډيره تلخ

***** کريفلد جرمنی 28-02-2020

## سينګار

ښايسته وه ،ښا يسته شوی، سينګار کړي تورچشمان
اميل يی پر غا ړه نری وريځی سور لبان
جلوه او کرشمی يي ويده زړونه ويښوي
د سترګو اشاريی يی د مينی ارمغان
رخسا ر يی د انا ر د ګل په رنګ تراو تازه
خندا يی له زړه وړی تير غمونه د هجران
نو ولي (مل) په دی صنم زړه ونه بايلي
چي نشته بل همتا يی د دی ښا ر په ټول خوبان

******* کريفلد جرمنی 29-02-2020

## مخی ته راتلي

بيواکه لرزيدم چي مي مخي ته راتلي
خولو کي ډوبيدم چي مي مخي ته راتلي
ستا به ښه يادوي چي مي تا ته کتي نشو

په ژبه کنګیدم چي مي مخي ته راتلي
هروخت ستا دجما ل تر تاثیر لاندی راتلم
له خپله هیریدم چي مي مخي ته راتلي
لیدو سره دی (مل) خپل لاره ورک کول
بی اختیاره شرمیدم چی مي مخي ته راتلي

****** کریفلد جرمنی 2020-02-29

## ما لید لي

جامي دی بدلول پام دی نه وه ما لید لي
نازک کمیس په تن دی چی اغوستی ما لید لي
اندام دی ډیر جذاب ، ښا یسته او دیدني وه
چي سترګي په کاجل دی تورول ما لیدلي
جذ به ستا د میني په انګا ر و کیښینولم
هنداره کی چي ځان دی جوړول ما لید لي
خطا می نه وه کړي ما چي ځا ن درسپارلي
پر «مل» چی دی نظر شو ستا ادا مالیدلي

***** کریفلد جرمنی 2024-02-29

## بیخود

سا قي هومره مي بیخود که چي پوه نشمه پرځان
چي مي ویسي خیالات په حضور د خپل جانان
په نغمو کي دی مطربه هسي سُراوتا ل سا زکه
چي آهنګ یی هماهنګ وی د اشنا د پاولیګان
له خپل ښه ای ښیواله څو رنګین ګلان راکه
چي یی وتومبوم هر کل د جانان په تور زلفان
له کڅوړي دی قواله رانجه او کاجل راکه
چي ډالی کړمه جانان ته چي کړی تور خپل چشما ن
«مل» به وکړی تماشای یی په هوس اوپه رغبت
هغه ځما ډیره خوښیږی بی همتا په ټول خوبان

**** کریفلد جرمنی 2020-02-30

## پل په پل

دیدار سره دی زړه خوشحالوم دا مي آرمان دي
تناکي چي په زړه لرم راپا تي د هجران دي
بی تا مي په بيلتون کي بدی ورځی وليد لي
ليدو نه چي دی نه مړيږم ښکلی ستا چشمان دي
ګذار ستا د سترګو نوی ژوند را ته بخښي
ليدو سره دی هروخت می خوله په خندان دي
د حسن سوداګر يم اداکانی دی را پلوروم
د ستا ترشا په مينه پل په پل «مل» راروان دي

*******

کريفلد جرمنی 30-02-2020

## خوند کوي

جوړه پالنګ د پا سه مرکي دی خوند کوي
بوسی سره له شونډو کرشمي دی خوند کوی
تلتک کی ځنګ په ځنګ اړخ په اړخ اوريدل دي
نسيم د تورو زلفو د وږمي دی خوند کوي
د ميني افسا نی دی بيا ستا په خوږه ژبه
پارونکی زړه وړونکی تود قصي دی خوند کوي
خلوت ستا په رضا ما «مل» ته ډالي دي
د ليچو د بنګړو خوږی نغمي دی خوند کوي

*****

کريفلد جرمنی 30-02-2020

## صاحب جمال راځی

د يا ر له لوري خوږ نسيم د نوی کال راځی
د تورو زلفو د وږمو نری شما ل راځی
پيغام د ميني د نسيم په ګن ځپو کی ليږي
د بنګړو شرنګ د خوږنغمی يی سُراوتال راځي
ډير په تلوار مي سترګي ځا ری دراتلو لاره يی
ګل مي په لاس ورته ولاړ يم اوس مهال راځي

له ډیر خوښی پخپل جامو کی زه «مل» نه ځایږم
ها به همتا ښکلی صنم صا حب جما ل را ځي *** 01-03-2020

## مازدیګرشی

چي کله ما زدیګر شی چکر مي په ګودرشي
پرتا چي مي نظر شی پرما ورځ اختر شي
ځا رمه ستا لاره په مینه او په تلواره
له لیری چي ښکاره شي رڼا پرما د لمر شي
له هری خوا نظر می بیواک پرتا ولویږی
چي ته ګوري په ناز له زړه مي غم بهر شي
غمزي ستا د چشما نو خوری وری زلفا نو
چي پحپل رمنده سترګی دی پر(مل) کله نظرشی

****** کریفلد جرمنی 2020-03-03

## په ارمان یم

ستا ادرس می ورک کړی سرګردان یم
نظر هر خوا اچوم ډیر هراسا ن یم
په حسرت ستا د دیدار بیا په لیوژارم
لیونو په شا ن دځا ن سره ګویا ن یم
هیڅ د ژوند په آب وتاب نه پوهیږم
له ډیر درد او له رنځه پریشا ن یم
کله بیا د «مل» نظر ستا په جمال شي
زه دهغي ورځی په هیله اوپه ارمان یم

**** کریفلد جرمنی 2020-03-04

## پالم

دتودي مینی په انکارکی وصال غواړم
چي یی نه وینم آشنا پخپل حال ژاړم
ما هغی ته برخه لیک وه خپل سپارلي
خبر نه اوم چي د هجر په چا ل اوړوم
لکه وچ خزاني پا نی دوچ ښاخ
د بیلتون د باد په لور ی زوال کالم

د آشنا   تر   کوڅې    ونه   رسيد مه
(مل)  د  هغې د ليد و  خيال  را  پالم

****** کريفلد جرمنی 04-03-2-20

## پا س په کټ

پرون دی ښه ونکړ له ما چي دی مخ پټ کړ
ديدار نه دی محروم کړم چی ما ته دی خپل څټ کړ
ته  هم  په دی   پوهيږي  چي  ته مي ډير خوښيږي
له   سترګو   مي پناه دی   بنګړي  د سپيني مټ کړ
ما   ستا  نا ز  او  ادا   د  ژوند   په   بيع  اخيسي
له تا چي  نه  تيريږم   ته   هم   فکر  کټ  مټ کړ
له  «مل»  مه  خپه  کيږه   زر ما   سره  پخلاشه
خوږی  سپيني  خبری  پا س   ما سره   په  کټ کړ

****** کريفلد جرمنی 2020-03-07

## ګرځوي نشي

ما  له  خپلي   ميني   په  پلمو  ګرځوي  نشي
يا   ځما   د   ميني لاری په ګوابڼ  ترلي نشي
ښه سردی راخلاص که مينه ځما ګذری نه دی
څپی   ځما   د   ميني  له سينه مي ايستلي نشي
پيغور  منلي  نشم  چي له  تا  روی ګردان شم
ته  هم  له  خپل ديدار سترګی ځما اړوی نشي
د تا سره  د«مل» مينه په تيکه کي حک شوی
دکا نی کربني   ته هم   هيڅکله  پاکوی  نشي

******* کريفلد جرمنی 2020-03-08

## سخت تيريږي

له ذهنه مي  انځور  دي  هيڅکله  نه  غورځيږي
سری شوندي لبنته اوني هروخت دی مي ياديږي
ستا مينه  مي  په   ذهن  کی  هسي  حک  شوی
که  خپل  ځان کړم  هير  اما ته  مي نه هيريږي
چي کله  شم  بواځی  ستا د خيا ل په تال زنګيږم

له سترګو مي بيواکه ترمی اوښکی راڅخيږي
يا هم ستا دبيلتون اورتول صورت مي سوځوی
هم ستا دبيلتون ورځي پرما «مل» سخته تيريږي

کريفلد جرمنی 2020-03-09 ******

## ژړيدم

چي بی اختياره دی بيلتون کي ژړيدم
ستا ديدار ته په تلوار ډير هوسيد م
په ژړا مي خپل درد سپکول
چي په ياد دی ډير په مينه ولويدم
ستا د هجر ترخي ورځی مي شميرل
چي مي نه ليدی لمبو کي سوځيدم
ځما د ليد په رويت نه ښکاريدلي
له دی غمه شپه اوورځ ډيرځوريدم
چي د «مل» په ياد هرکله ته راتلي
له خپګا نه په صورت ډير کړيدم

کريفلد جرمنی 2020-03-10 ****

## هنګامه شی

که له سره شمه ځوان سرمي بيا په ميخانه شي
دساقي حرمت به وکړم چي مي ډکه پيمانه شي
دزړه ورلي همد م د بيلتون شيبی چي ياد شي
خودترهغه شراب څښمه چي مي هيره زمانه شي
نور زه نشمه زغملی د جا نا ن د بيلتون ورځي
غوارم عقل نه پردي شم چي مي پاتي افسانه شي
سا قي هسي مي کړه مسته چی له حاله بيحال شم
چي د «مل» له بيحالی نه تر جانه هنګامه شي

کريفلد جرمنی 2020-03-10 ****

## پيزوان

د سروشوند و د پاسه دی پيزوان څه ښه ښکاريږی
د مينی نور کا ته سره له سترګو دی اوريږي

همتا ستا د حسن او د جمال په ښکلو نښته
سپوږمي له ډېره شرمه په وريځو کي پټيږي
په څنګ کي دې اوسيدل روح اوروان ته فرحت دی
د زلفو نسيم دی چي په مخ د چا لګيږي
ما «مل» خپل خوښی ستا په څنګ کي ازمايلي
مسکا چي دی په شونډو ځما ليدوسره توکيږي

*****

کريفلد جرمنی 10-03-2020

## بسمل

ادا سره بسمل دی کړم په وخت د جدايي
چي شا دی ما ته واړول هغه ما زديګري
ګودر کی ستا همزولي په حال زمونږ ژړل
زه هم له ډير خپګانه اومه ډوب په بيخودي
زه هيڅ نه پوهيد مه چي له تا جدا کيږم
چي کيږم له بيلتونه دی بيا وچ سپيلني
هرڅيری چي اوسيږی له« مله» نه هيريږي
انزار ستا د بيلتونه به مي جوړکړي ليونی

*****

کر يفلد جرمنی 10 -03-2020

## ګذار

که پر ما په تيغ د وريځو کړي ګذار
لاس يی نه نيسم پريږدمه يی په اختيار
د با نو غشو ته سينه مي سپر کړي
زه د هغي د هر کتو يم منت بار
مينه بی له سوز او سا ز نه لري خوند
څوک چي ګل سا تی ګالی دهغی خا ر
که دوريځوپه خنجرما«مل» زخمی کړي
د هغی له مينی نه کيږم هيڅوخت بيزار

****

کريفلد جرمنی 06-03-2020

## ساقی

ساغرکی مي ترخي اوبو را واچوه ساقي
جانان له ما خپه دي نه لرم بل دلګرمي
د خم له بيخه دُرد د مي مي واچوه پيا له کي
چي زرله حاله لاړ شم چي مي هيرکړم بدمرغی
د يار د ميني غبړ مي په لوړ آواز تر غوږ شي
ديدار نه يی محروم له ډيره غمه ډير ځړتی
نيشو سره که هير مي کړي ساقي د يار بيلتون
احسان دی«مل» هيرنکړي چی ژوند پاتي دي باقي

****

کريفلد جرمنی 06-03-2020

## شفاف

د شمعی په هاله کي پتنګ تل کوي طواف
د مينی غريزه دي بنيی شمعی ته الطاف
مينه بيا د ژوند د بقا يو غريزه دي
ها داچي هرمشتاق ګرځی دخپل شوق په اطراف
د يار مينه مينو ته په ژوند دلګرمي وي
مينوو بی د يار دوصال نه لري ا هدا ف
هجران د يار مينوو ته بد مرغه عارضه وي
بی ريا مينه هميش وي «مل» ستره او شفاف

******

جرمنی کريفلد 07-03-2020

## نـګاره

پخلاييني ته دي نه لرم بل لاره
بی له دی چي راضی نکړم ستا ريباره
داخلي چيري که ما سره پخلا شي
تر اخره به دی کيږم منت باره
زه د تا آشنا چي دومره خيال ساتم
زړه مي تا پسی تللی بی اختياره
ستا ادا او کرشمي په ليمو اخلم
ته د«مل» يی بی همتا ښکلي نګاره

*****

کريفلد جرمنی 11-03-2020

## آرمان

باران په شیبوو اوری راشه د ننه په دالان
د مینی مرکی کړه له زړه ورک می کړه خپګان
هرخواخپورترږمي دي څوک مونه وینې دالان کی
پونبلي توري وریځی له یوسره تول آسمان
له خلکو مه ډاریږه که مو ووینې یو ځاي
باران به کړو پلمه ته مه کیږه پریشا ن
ته هسې بی حده د «مل» ډیره خونبیږي
راځه جانان مي څنګ ته چي پوره مي شی آرمان

***** کریفلد جرمنی 2020-03-11

## هنداره

کا شکی ته هنداره وای چی مخ مي خپل لیدل هروخت
یا می ستا ښایست صورت هروخت ناوخت کتل هروخت
*

ما ته دی کتل هر وخت چي مخ دی چي جوړوله
یا چي دی خپل سترګي په کاجل دی توره وله
ما به په خلوت کي به د ستا مسکا لیدل هروخت
یا مي ستا ښایست صورت هروخت ناوخت کتل هروخت
*

نه مو د خلوت په وخت غما ز به غما زی کول
نه څوک زمونږ په مینځ کي دوه مخی اوشیطانی کول
خوند مو یو له بله په کتو به اخیستل هر وخت
یا مي ستا ښایست صورت هروخت ناوخت کتل هروخت

*

مخ دی له نژدی ځما په مخ به ولویدل هردم
ما به تا ته ویلی ای ځما ښکلی بی جوړه صنم
تا چي خند ید ل ما «مل» هم به خند ید ل هر وخت
یا مي ستا ښایست صورت هروخت ناوخت کتل هروخت

******* کریفلد جرمنی 2020-03-13

## ساحل

نن مې ښکلي پیغله لوخ بربنډ  ساحل کې ولیدل
لوخ سپیني پنډې د ناوکې ګل په وربل ولیدل
ستونې ستخ وه پروت په شګو پا س کتل آسمان ته
اناریې دسینې مې چپ او راست په تقابل ولیدل
خپل ښکلی بدن د لمر په وړانګو ګرموله هغه
ماته په مسکا سره کتل ما چي هغه متقا بل ولیدل
هغه نور ښکلي مې له یاده له یوسر ویوړل
کله چي هغه «مل» ته پرته له تغا فل ولیدل

******

کریفلد جرمنی 2020-03-13

## شبنم

شبنم چي د ګلاب د ګل په پا نو را اوریږي
خولې دې په سپین مخ مرغلرې را ښکا ریږي
هرڅل چي درته ګوروم په رغبت سیند کې دې ولویږم
صورت مې بیا د ستا په تنور د مینې کې سوځیږي
په حسرت ستا د خلوت کې ډک جامونه تشوم
چې تا ته نه رسیږم ترمي اوښکي مي تویږي
د ستا میني د لاسه دخپل هیلو سیند کي لامبوم
راځه د «مل» لاس ونیسه چي په سیند کې ډوبیږي

****

کریفلد جرمنی 2020-03-13

## کوچیا نی